د افغانستان اسلامی جمهوریت جمهوری اسلامی افغانستان

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی

Islamic Republic of Afghanistan

Ministry of Communication and IT

دمقام ددفتر ریاست

دویاند دفتر | دفتر سخنگوی | Office of the Spokesman

نیټه:۱۸ حمل/ ۱۳۹۷

**مطبوعاتي اعلامیه**

**موضوع: د (.af) ډومینونو قیمت راټیټ شو**

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت د (.af) ډومینونو قیمت راښکته کړ؛ دا په داسې حال کې دی چې د یادو ډومینونو پخوانی کلنی فیس ۵۰ امریکایي ډالره وه چې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت د لزوم دید او رهبرۍ د پریکړې پر بنسټ د (.af) ډومین کلنی فیس ۲۵ امریکایي ډالره وټاکل شو. د یادونې وړ ده چې د ډومینونو د فعالیت د ساحې پراخوالي په په موخه د ( .tv.af) او (.media.af) په نوم دوه نور زونونه هم اضافه شول؛ د دغو دوه زونونو د هر ډومین د ثبت قیمت ۴۰ امریکایي ډالره و ټاکل شو. د (.af) عمومي مدیریت د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت د معلوماتي سیستمونو د امنیت ریاست تر چتر لاندې فعالیت کوي چې اساسي هدف یې په هیواد کې د (.af) تر نامه لاندې د ډومینونو ثبت او راجیسټریشن دی.

په بازار کې د سالمې سیالۍ په موخه د (.af) ډومین مرکزي کوډ تخفیف د ۲۰۱۸ زیږدیز کال د اپریل میاشتې له ۷ نیټې څخه پلی او د تطبیق وړ دی. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت د معلوماتي سیستمونو د امنیت ریاست له ۲۰۰۳ کال څخه تر دې مهاله ۸۶۰۰ ډومینونه ثبت او راجیسټر کړي دي.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت

د رسنیو او عامه اړیکو دفتر